# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

# بولتن خبری

# News Bulletin

۱۸ جوزا _سال ۱۴۰۱


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه

په هلمند کې له (۱۸٤) بې وزلو او زیانمنو کورنیو سره مرسته وشوه ---------------------------------------------- ٤

به ۳۰۵ خانواده در لغمان کمک شد--------------------------------------------------------------------------------- ٤

177خانواده در جوزجان مدد رسانی شد ---------------------------------------------------------------------------- ٥

ترکیه: نږدې ۱۷۰۰ سند نه لرونکي کډوال په استانبول کې نیول شوي دي------------------------------------------- ٦

یونان: له پولیسو څخه د تېښتې پر مهال یو مهاجر او یو قاچاق وړونکي وژل شوي----------------------------------- ٧

یونان دو پناهجوی افغان را به اتهام آتش زدن کمپ مهاجرین به زندان محکوم کرد----------------------------------- ٩

خبرنامه

## په هلمند کې له (۱۸٤) بې وزلو او زیانمنو کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت وېب پاڼه




**د هلمند ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست له لوري د روان کال د غبرګولي په (۱٦) مه د دو شنبې په ورځ په دغه ولایت کې پر (۱۸٤) بې وزلو او زیانمنو کورنیو سره نغدي او صحي مرسته وشوه.**

**هرې کورنۍ ته (۲۱) زره افغانۍ د (AAH) موسسې له خوا او یو صحی کیټ د (DACAR) موسسې لخوا د مهاجرینو چارو ریاست په همغږۍ ورکړل شول.**

## به ۳۰۵ خانواده در لغمان کمک شد

ویب سایت وزارت




**برای ۳۰۵ خانواده بیجاشده، خانم های بیوه، اطفال یتیم، معلولین ولسوالی علینگار، درآن ولایت به تاریخ ۱۶ جوزا، ازطریق اداره امور مهاجرین آنولایت توزیع شد.**

**کمک مذکور برای هر خانواده، مبلغ ۷ هزارو ۹۰۰ افغانی از جانب اداره CWSAبود که بعد از اتمام سروی به ایشان توزیع شد.**

## 177خانواده در جوزجان مدد رسانی شد

ویب سایت وزارت



ریاست امورمهاجرین وعودت کننده گان ولایت جوزجان مساعدت نقدی را برای ۱۷۷ خانواده بیجاشده ناشی از جنگ و عودت کننده آن ولایت به تاریخ 16جوزا توزیع نمود.

کمک یاد شده از طرف دفتر ORD در دو کتگوری، مبلغ ۱٤۰ دالر و ۱۱۰ دالر امریکایی بود که بعد از سروی به خانواده های مستحق توزیع شد.

## ترکیه: نږدې ۱۷۰۰ سند نه لرونکي کډوال په استانبول کې نیول شوي دي

مهاجر نیوز



د ترکي سرچینو په حواله د تېرې شنبې په ورځ د ترکیې په استانبول ښار کې نږدې ۱۷۰۰ «غیر قانوني» کډوال نیول شوي دي. لږ مخکې ترکیې ویلي وو چې په روان کال کې یې تر ۲۸ زره ډېر کډوال له خپلې خاورې څخه شړلي دي .

د ترکي رسنیو په حواله یوې امنیتي سرچینې د خپل نوم د نه ښودلو په شرط ویلي دي چې د ترکیې امنیتي ځواکونو د کډوالو د قاچاق پر وړاندې د مبارزې څانګې سره په همکارۍ د استانبول ښار په بېلابېلو سیمو کې ۱۶۸۲ سند نه لرونکي کډوال نیولي دي.

نیول شوي کسان د بېرته ستنېدو مرکزونو ته استول شوي دي.

**تېره مې میاشت د ترکیې د کورنیو چارو وزارت ویلي وو چې د روان میلادي کال له پیل راهیسې یې تر ۲۸۵۰۰ ډېر ناقانونه کډوال له خپلې خاورې څخه ایستلي دي .دا د تېر کال د همدې مودې پرتله ۷۰ سلنه ډېروالی ښیي. د شړل شویو کډوالو په ډله کې تر ټولو ډېر افغانان دي.**

**که څه هم واک ته د طالبانو له رسېدو سره د ترکیې څخه د افغانستان پر لور د کډوالو د بېرته ستنولو لړۍ درېدلې وه، خو په ۲۰۲۲ یاده پروسه بېرته پیل شوه.**

**لږ مخکې د ترکیې د کډوالۍ ادارې په یوه خبرپاڼه کې ویلي وو چې ترکي چارواکو یوازې په ۲۰۲۲ کال کې خپلې خاورې ته له ۱۵۰ زرو څخه د ډېرو کډوالو د ناقانونه ننوتلو مخه نیولې ده او په همدغه موده کې یې ترکیه کې دننه له ۷۰ زره ډېر غیرقانوني کډوال نیولي دي.**

**یاده خبرپاڼه کې زیاته شوې وه چې ایستل شوي کسان د ۹۴ هیوادونو اتباع دي خو ډېری پکې افغانان، پاکستانیان او سوریایان دي.**

**ترکي چارواکي د ناقانونه کډوالو په نیولو سره دوی د بېرته ستنېدو مرکزونو ته استوي. دا مهال تر ۱۸ زره ډېر کډوال یادو مرکزونو کې ساتل کېږي چې ۱۰۷۶۳ تنه یې افغانان، ۲۷۴۰ تنه یې پاکستانیان، ۱۷۷۶ تنه یې سوریایان او ۳۵۲۲ تنه نور یې د نورو هیوادونو وګړي دي.**

**ترکیه د هغو کډوالو لپاره چې غواړي د یو ښه ژوند د موندلو په موخه اروپا ته ځانونه ورسوي، د ترانزیټ یوه مهمه لاره بلل کېږي. د رسمي شمېرو له مخې دمګړۍ په ترکیه کې کابو ۴ میلیونه کډوال ژوند تېروي چې ډېری یې سوریایان او افغانان دي.**

## یونان: له پولیسو څخه د تېښتې پر مهال یو مهاجر او یو قاچاق وړونکي وژل شوي

مهاجر نیوز



د یونان په شمالي سیمه کې د تېرې شنبې په ورځ دوه کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ. د لومړنیو معلوماتو له مخې، وژل شویو کې یو مهاجر او یو قاچاق وړونکی دي چې دواړه یې د پاکستان تابعیت لري. په دغه موټر کې ۱۲ تنه نور هم سپاره ول چې ټپیان شوي دي.

اسوشیتد پرس د یونان د ځايي پولیسو له قوله وایي چې د تېرې شنبې په ورځ د دغه هیواد په شمالي سیمه کې دوو کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. ویل کیږي چې دغه دوه کسان چې یو یې مهاجر او بل یې قاچاق وړونکی و د پاکستان اصلي وګړي ول. یاد موټر کې ۱۲ تنه نور هم سپاره وو.

پېښه هغه مهال رامنځ ته شوه چې قاچاق وړونکي هڅه وکړه چې د پولیسو څخه وتښتي. دغه موټر د یونان د تسالونیک ښار پر لور روان و.

پاتې کسان چې په ډله کې یې ۹ پاکستانیان او درې افغانان دي ټپیان شوي دي. د هغو ټپیانو وضعیت نازک بلل شوی دی چې ځانونه یې د موټر په ټول بکس کې پټ کړي وو.

یونانې پولیسو د پېښې د جزیاتو په هکله بشپړ معلومات نه دي ورکړي. دا هم څرګنده نه ده چې یاده پېښه ترافیکي حادثه ده او یا پولیسو د کډوالو پر موټر ډزې کړې دي.

تر دې دمخه هم یاد قاچاق وړونکی د انساني قاچاق او غلا په تور محکوم شوی و.

د مهاجرت پر لارو مرګوني پېښې کومه نوې خبره نه ده. د ۲۰۲۱ په وروستیو ورځو کې هنګري کې ترافیکي پېښې ۷ کسان ووژل او ۴ تنه نور یې ټپیان کړل. د پولیسو په وینا موټر چلوونکي د تلاشۍ په پوسته کې د موټر له درولو ډډه کړې وه. په ۲۰۲۰ کې بیا د یونان په شمال کې ۷ تنو نورو خپل ژوند له لاسه ورکړ. د دغو مهاجر موټر الکساندروپولیس ته نږدې له یو دېوال سره ټکر کړی و .

## یونان دو پناهجوی افغان را به اتهام آتش زدن کمپ مهاجرین به زندان محکوم کرد

صدای امریکا




**پناهجویانی که پس از آتش سوزی در کمپ "ماریو" واقع در جزیرهٔ لسبوس در حال فرار استند (تصویر از آرشیف صدای امریکا)**

**یک محکمه‌ای استیناف در یونان روز سه شنبه هفتم جون (۱۷ جوزا) دو پناهجوی ۱۸ سالهٔ افغان را به اتهام آتش افروزی در یک کمپ مهاجران واقع در جزیرهٔ لسبوس آن کشور به چهار سال زندان محکوم کرد.**

**خبرگزاری فرانس پرس گزارش داده است که این محکمهٔ استیناف میعاد حبس این دو پناهجوی افغان را به دلیل رفتار خوب، از پنج سال به چهار سال کاهش داده است.**

هنگامی که کمپ موسوم به "موریا" در دو آتش سوزی متوالی به تاریخ ۸ و ۹ سپتمبر ۲۰۲۰ میلادی به خاکستر تبدیل شد، هر دو پناهجو هنوز خردسال بودند.

ویکی انجلیدو، وکیل مدافع آنان، پس از محاکمهٔ استیناف گفت که محکمهٔ لسبوس باید مجازات اصلی را که در ماه مارچ حکم آن صادر شده بود، باید به نصف کاهش می داد.

این وکیل مدافع ادعا کرده است که "فقدان آشکار شواهد معتبری که علیه آنان [دو پناهجوی افغان] ارایه شده بود" وجود داشت.

خانم انجلیدو به خبرگزاری فرانس پرس گفت با وجودیکه این دو پناهجو در زمان وقوع آتش سوزی کمپ مهاجران در جزیرهٔ لسبوس خردسال بودند، هیچ شرایطی برای تخفیف مجازات آنان مدنظر گرفته نشده است.

قبل بر این، یک محکمهٔ یونان به تاریخ ۱۲ جون ۲۰۲۱ میلادی چهار پناهجوی افغان را که به آتش‌افروزی در بزرگترین کمپ پناهجویان در اروپا متهم بودند، هر یک را به ۱۰ سال زندان محکوم کرد.

این چهار پناهجوی افغان متهم اند که در آتش افزوزی و از بین بردن کمپ مهاجران نقش داشته اند .

کمپ موریا در جزیرهٔ لسبوس که میزبان ۱۳ هزار پناهجو بود، در ماه سپتمبر سال ۲۰۲۰ میلادی در اثر آتش‌سوزی با خاک یکسان شد، اما آن رویداد تلفات جانی نداشت. مهاجران در این کمپ پر ازدحام در عقب سیم‌های خاردار به سر می بردند .

چند روز پس از آتش سوزی در این کمپ، چندین پناهجوی افغان به ظن آتش زدن کمپ دستگیر شدند. در آن زمان، مهاجران در این کمپ به خاطر وضع قرنطین ناشی از همه گیری کووید۱۹ که شماری از آنان به این بیماری مبتلا شده بودند، دست به اعتراض زده بودند .

پس از آن که این کمپ از بین رفت، همه پناهجویان این کمپ به شمول کودکان، زنان حامله و افراد دارای معلولیت مجبور شدند برای یک هفته در فضای باز به سر ببرند.